# په ګاونډیو هیوادونو کې د افغان کډوالو حقوقي وضعیت او د هغوي پر وړاندې د افغانستان اسلامي امارت مسئولیت

**لیکوال: عبدالحمید ظهیر**

**علمي او تحقیقي رساله**

**شپږمه برخه:**

## ۷: حل لارې او وړاندیزونه

د راستنیدونکو افغان مهاجرینو وضعیت ته رسیدنې په موخه یو لړ حل لارې، وړاندېزونه او سپارښتنې په لاندې څو برخو کې بیانوم.

**الف:** افغان حکومت باید په ډېر دقت سره د مهاجرینو راستنیدلو پروسه وڅاري ځکه له پاکستان څخه د راستنیدونکو مهاجرو په ډله کې د ورانکارو عناصرو او استخباراتي اجنداو په مخ وړلو لپاره د مهاجر په نوم د افرادو رالیږلو احتمال موجود ده نو په همدې اساس دیادې پروسې مدیریت هم له بشري نګاه او هم له امنیتي نګاه اسلامي امارت ته یو مهم چلنج کیدلای شي چې باید په ښه او مدبرانه توګه یې مدیریت کړي.

**ب:** دا هم یو حقیقت ده چې راستنیدونکو مهاجرینو سره د مرستو برخه کې د اسلامي امارت مالي او مرستو تر سره کولو اتکا تر ډیره په نړیوالو موسساتو او نهادونو ده، دغه انګیزه او رویه باید تغیر وکړي یا په بله معنی اوسنی نظام داسې فکر کوي چې افغان مهاجرو ته د رسیدنې ډېر مسئولیت موسساتو ته راجع کیږي پداسې حال کې چې اصلي او محوري رول باید دولت تر سره کړي او فرعي رول د موسساتو وي نو ددي لپاره قوي او منظمو برنامو او پالیسیو جوړولو ته اړتیا ده چې اسلامي امارت باید دا کار په خپلو لومړیتوبونو کې ونیسي د مثال په توګه د راتلونکو مهاجرینو لپاره د ځمکو ویش د یو منظم پلان له مخې  چې ټولنیزې او قومي ستونزې راولاړې نکړي، د کار زمینه برابرول، د لنډ وخت لپاره د هغوی لاس نیوی او اوږدمهاله کې د هغوي لپاره د ژوند د معیشت برنامو برابرول او داسې نور.

**ج:** افغان حکومت په ځانګړې توګه د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت د ایران او پاکستان هیواد څخه د افغان مهاجرو د راویستلو په اړه باید یو پلاوی یادو هیوادونو ته ولیږي تر څو هغه افغانان چې په غیر قانوني

توگه هلته ژوند کوي او یاد هیوادونه یې د راویستلو اراده لري په باعزته توگه د راویستلو زمینه برابره کړي او حد اقل د ژوند د لومړنیو حقونو د تامین په برخه کې مرسته ورسره وکړي.

**د:** له خپلو طبعي او غیر طبعي منابعو او نور د فشار له نقطو څخه د گاونډیو هیوادو په وړاندې د نړیوالو قوانینو مطابق د متقابل عمل په توگه استفاده کول یؤ لازمي کار ده چې تر سره یې کړي د مثال په توگه د خپلو اوبو مدیریت او بندونو رغاونه چې گاونډي هیوادونه به په اتومات توگه د خبرو میز ته راکاږي، د پاکستان او ایران له لوري همیشه افغانستان ته د خپل اقتصادي مارکیټ په توگه کتل کېږي په دي برخه کې د محصول، تعرفو او گمراکاتو لوړول هم یوه لاره کېدلای شي خو دا کار هغه مهال شونی ده چې خپلو داخلي تولیداتو ته لومړیتوب ورکړل شي او حمایت یې وشي، همدارنگه نن ورځ په امنیتي برخه کې گاونډي هیوادنه افغانستان ته تر بل هر وخت ډیره اړتیا لري چې افغان حکومت باید په ډیر ځیرکانه ډول گاونډي هیوادونه له دي نقطې تر فشار لاندې راولي، د مثال په توگه په ځینې حالاتو کې د گاونډیو هیوادونو په ځانگړې توگه د پاکستان له لوري د امنیتي مؤضوعاتو د بحث لپاره د لوړ رتبه هیتونو رالیږلو سره د افغان لوري نه موافقه او په دي برخه کې د مذاکراتو رد کول تر څو هغه غوښتنې چې افغان لوری یې لري هغوي ورته غاړه کېږدي او داسې نور.

**و:** هغه افغان مهاجر چې په لسیزو مخکې مهاجر شوي، نن ورځ په زور له گاونډیو هیوادنو راویستل کېږي او په داخل د هیواد کې د هغو په ځمکو او غیر منقولو اموالو حقوقي دعوې موجودي وي یا بعضې یې اصلاً ځمکه او جایدادونه ونلري حتی ځینې یې د افغانستان تذکره او نور اړین اسناد ونلري چې خپل هویت، ملکیت او اموال ورباندې ثابت کړي د دغه ډول مسایلو لپاره یؤ ځانگړې حقوقي او قضایې کمیسیون باید و گمارل شي تر څو دي او دیته ورته نورو مؤضوعاتو ته رسیدنه وکړي.

**پایله**

د مهاجرت په برخه کې اصلي برخه د مهاجرینو انساني او بشري حقوق تشکیلوي یا په بله معنی د مهاجرینو د حقونو هسته انساني حقونه دي چې باید مراعت شي.

د مهاجرینو د حقونو ورکړه ډیره تاریخي مخینه لري چې پخوا به د هیوادونو لخوا بدون له دي چې سیاسي مسایل په پام کې ونیول شي یواځې د انسان دوستۍ له مخې په نظر کې نیول کېدل ولې نن ورځ د مهاجرینو له شتون په کوربه هیوادونو کې د هغوي د متبوع دولت په وړاندې د فشار او خپلو غوښتنو د منلو یوې وسیلې په توګه ګټه اخیستل کېږي چې بدبختانه د افغانستان ګاونډي هیوادونه په ځانګړې توګه پاکستان او ایران د تاریخ په مختلفو پړاونو کې د افغانستان د مختلفو نظامونو په وړاندې له دا ډول چلند څخه استفاده کړې ده، بناْ د افغانستان اوسنی حاکم نظام د ګاونډیو هیوادونو دغه ډول کړنو ته باید په ډیر دقت سره وګوري.

افغان حکومت ته ښایې چې له خپلو ټولو شته فرصتونو او امکاناتو په ګټې اخیستنې سره دا توجه او هڅه وکړي چې نور افغان مهاجر د ګاونډیو هیوادونو له لوري د فشار د وسیلې په توګه له کارولو څخه خلاص کړي، د هغوي د باعزته راستنیدلو حل لارې چارې برابرې او ذیدخله ملي نهادونو او نړیوالو سازمانونو سره په همغږۍ عمل تر سره کړي، تر څو له یو طرفه ګاونډیو هیوادونو سره د سیاسي تعامل او دریځ نیولو په وخت کې دغه د کمزورۍ نقطه نور له منځه ولاړه شي، او له بله پلوه خپل وګړي خپل هیواد کې خوندي کړي د هغوي له امکاناتو تجاربو سرمایو او کاري وړتیاوو د هیواد په بیا راغاونه او آبادۍ کې مثبته او مشروع ګټه واخلي.

وَ مَا عَلَيْنَآ اِلَّا اْلْبَلَاغُ اْلْمُبِينُ